بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

شنبه، 18 ربیع الاول، ۱۴۴۶هـ | ۲۰۲۴/۰۹/21م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/8

مطبوعاتي اعلاميه

## ملي سرود د ملي‌پالنې ترانه ده چې د نوي جاهليت تعصب ژوندی ساتي

په وروستيو کې د پاکستان په پېښور کې د افغانستان د حکومت سرکونسل او په ايران کې په يوه نړيواله غونډه کې د افغانستان ډيپلوماتيک استازي د دغو دوو هيوادونو د ملي سرودونو په احترام له درېدو څخه ډډه وکړه. دغه اقدامات د پاکستاني او ايراني مقاماتو له منفي غبرګونونو سره مخ شول او دا يې ډيپلوماټيک عرف او نړيوالو قوانينو ته بې احترامي وګڼله.

مونږ دغه اقدامات ستايو او د ايماني شجاعت او اسلامي احساس نښه يې ګڼو. په واقعيت کې ملي سرود د ملي‌پالنې هغه ترانه ده چې د نوي جاهليت تعصب ژوندی ساتي. په معاصره نړۍ کې «ملت» د حاکميت سرچينه او د حق او باطل معيار ګرځېدلی، ملي ګټې د حرامو او حلالو ځايناستې شوې، ملي دولتونه د امت د وحدت مانع او د خلافت بديل شوي دي، ملي پولې د اسلامي امت تر منځ د تفرقې پر کرښو بدلې شوې او ملي بيرغونه هم د جاهليت د بيرغونو په څېر د امت پر ټوټه، ټوټه وجود مبخ شوي دي.

همدا ملي‌پالنه ده چې د امت مهمې قضيې لکه د غزې قضيه يې د فلسطين د کورنۍ قضيې کچې ته را کوچنۍ کړې ده او «اسرايل» او د هغه نړيوالو ملاتړو ته يې جرأت ورکړی چې نسل‌وژنه وکړي. پر دغه اساس، ملي ارزښتونه «محترم» نه دي چې د هغو بد ګڼل بې احترامي وبلل شي. له بده مرغه، نن د ملت او ملي‌پالنې د مفاهيمو داسې تقديس کېږي، لکه پخوا چې به بتانو ته عبادت کېده؛ د هغوی لپاره به قرباني ورکول کېده او د هغو د دفاع لپاره به جګړې کېدلې. له دې امله، نه يوازې دا چې دغو معاصرو «بتانو» ته درناوی حرام دی، بلکې واجب ده چې مات کړل شي.

**أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۖ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ** [الانعام:٧٤]

**ژباړه:** *«ايا تاسو بتان معبودان ګرځوئ؟ زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې وينم.»*

مونږ مسلمانان د نړيوال عرف مخالف نه يو، خو دا چې نن دغه عرف په سيکولر او اسلامي ضد افکارو ککړ شوی، نو د هغه له پيروۍ څخه ډډه کوو. نړيوال قوانين له سيکولر عقايدو څخه راوتلي او د اسلام خلاف بولو.

له بده مرغه ځينو استازو وروسته ښښنه وغوښته او څرګنده يې کړه چې د کوربه هېواد ملي سرود ته د بې احترامۍ نيت يې نه درلود. مونږ هغوی ته وايو چې د اسلام د غربت (نا اشنايۍ) په عصر کې بايد د نړيوالې فضا تر اغېز لاندې را نه شي او د هغو کسانو پر توصيه عمل و نه کړي چې د مصلحت تر نامه لاندې شريعت قرباني کوي. اسلام مونږ په هر ډول شرايطو کې پر حق مسير استقامت ته را بللي يو او له شک پرته د غربت په دې دوران کې اسلام تر هر وخت ډېر پر صبر او استقامت ټينګار کوي. همدا شان د اخر الزمان په فتنو کې صابر کس هغه څوک دی چې پر اسلام عمل د هغه لپاره په لاس کې د سکروټې نيولو په څېر وي؛ ځکه چې هغه د هيڅ قدرت، هيڅ سياسي فضا، هيڅ منفعت او مصلحت او هيڅ دستور او فرمايش تر اغېز لاندې نه راځي.

دا يو منل شوی واقعيت دی چې هر څومره چې نړيوال سيکولر نظم ته ډېر ننوځې، نو حتا ستاسو تر ټولو کوچنی اسلامي احساس به ځپل کېږي او تاسو به شاتګ ته اړ ايستل کېږئ. پر دغه اساس، ملي دولت ته بايد «نه» وواياست او ملي پولې بايد ماتې کړئ، ځکه چې د بتانو ماتول د دې امت رسالت دی. د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم د بتانو او جاهلي افکارو په ننګولو کې پوره صراحت درلود او هيڅکله يې شاتګ نه کاوه. لکه څه ډول چې د مشرکانو مشرانو له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې د هغوی عقايدو او بتانو ته دې سپکاوی نه کوي او له خپل رسالت څخه دې لاس واخلي، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«والله لو وضعوا الشمس في يميني، والقمر في يساري على أن أترك هذا الأمر حتى يظهره الله أو أهلك فيه ما تركته»**

**ژباړه:** *«زما دې پر الله تعالی قسم وي، که دوی لمر زما په ښي لاس کې کېږدي او سپوږمۍ مې په کيڼ لاس کې کېږدي، تر څو زه دا کار پرېږدم، تر هغه پورې به يې پرې نه ږدم چې يا يې الله تعالی اظهار (غالب) کړي او يا به په دې لاره کې ووژل شم».*